استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net


ارسالی: انارگُل خوستی
شنبه ۲۱ سپتمبر ۲۰۲٤

# اخ وطن وطن



## اخ وطن وطن





بې کلي او کور يمه
بېل له خپلې مور يمه
نه ښوک وطندار لرم
نه هم د چا ورور يمه
ځاله د غومبسو شوه
سيمه د تشنسو شوه
هغه د ليلا وطن
خاوره د بېکسو شوه

### اخ وطن وطن

بيا يې خرڅوي په نورو ګور کفن وطن

salamwatanam@gmail.com

دا جنت نشانه سیمه دا ختن وطن
دا زما مغرور پنځه زره کلن وطن

ارخ وطن وطن



بیا بیا شرموي نړئ ته خپل زامن وطن
بیا له راهزنانو غواړي تار او ستن وطن
بیا له لوړي مري زما دا لوی شتمن وطن
خدایه موږ ځاريږ که نه؟
غم کې زموږ یې که نه؟
نور نو لدې څومره ډېر سترې ازمايې که نه؟
ای د عدالت ربه
دا لوبه خو ورانه کې
نور که څه کوې که نه
خلاص مو د ملا نه کې



ارخ وطن وطن

داسې بې جانان دې نه وي دا مین وطن
داسې بې سندرې بې هنر او فن وطن
داسې ناعلاجه او تپې په تن وطن



ارخ وطن وطن

څنګه بې مالياره شو زما ګلشن وطن
څنګه بې صاحبه پاتې ګلبدن وطن
څنګه بې بهاره دی چمن چمن وطن
بې کلې او کور یمه
بېل له خپلې مور یمه
نه څوک وطندار لرم

salamwatanam@gmail.com

نه هم د چا ورور یمه
ځاله د غومبسو شوه
سیمه د تشنسو شوه
هاغه د لیلا وطن
خاوره د بپکسو شوه



ارخ زما وطن



---

استقلال – خپلواکی:هموطن گرامی از همکاری و احساس پاک شما سپاسگزاریم.

salamwatanam@gmail.com